# يعنې پورته لاس (ورکوونکی لاس) له ښکته لاس (غوښتونکي لاس) څخه غوره دی

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې حال کې چې په منبر ولاړ و، د صدقې، تعفف (یعنې له اړتیا پرته د صدقې اخېستلو څخه ډډه کولو) او له خلکو څخه د سوال کولو په اړه یې وفرمایل: « یعنې پورته لاس (ورکوونکی لاس) له ښکته لاس (غوښتونکي لاس) څخه غوره دی، لوړ لاس هغه دی چې صدقه ورکوي، او ښکته لاس هغه دی چې مرسته غواړي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله په منبر خطبه ورکوله، نو د صدقې ورکولو او له سوال څخه د ځان ساتنې یادونه یې وکړه او بیا یې وفرمایل: لوړ لاس چې ورکړه کوي او صدقه کوي، د ښکته لاس څخه چې غوښتنه کوي، غوره او د الله تعالی لپاره محبوب دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee